# دپښتو غیرت

که پښتون یی د پښتو غیرت دی څه شو؟
که مجنون یی دلیلی عزت دي څه شو ؟
د نیکونو دی تاریخ تو ل ته معلوم دي
تا ته پا تي د پلرو همت دی څه شو؟
ستا پلرونه له وطن غلیم ایستلي
پرغلیم له قهره ډک هیبت دی څه شو؟
ستا اجداد تل پر وطن سر ورکړي
پر وطن دی ستا مینه او رغبت څه شو؟
دی وطن کی ټول قومونه وه یو موټي
دقومو تر مینځ وروری اووحد ت څه شو؟
اوس پر تا باندي بربرو حا کما ن دي
ستا ویا ړني سروری او جرات څه شو؟
دعربو تا لی ښتی ستا نوروز نه لمانځي
د یما اوباستان دتاریخ روایت دی څه شو؟
ستا بیرق نام او ننبا ن له مینځه وړي
ستافرهنګ،ستا کلچر اوحریت دی څه شو؟
ستا پلرونه پنجابیان تل په ګونډه کړي
ستامیړانه،ستا توره اوخوځښت دی څه شو؟
له دروند خوبه را ویښ شه «داکتر مله»
پرګڼی کړه ټول راویښ مصلحت دی څه شو ؟.. 21-03-2022